# زما د لرې وطن یاره

ډېره د ویاړ خبره ده چې یو څوک د وطن نه زرګونه کیلو متره لرې وي هلته د لاسو پښو مزدوري کوي خو د پښتو ژبې د بډاینې لپاره ورسره هڅه هم کوي، دا کار هغه څوک کولی شي چې احساس یې ژوندی وي، قلم یې پخ نه وي، په مادیاتو معنویات غوره بولي اوددې هر څه سره سره یو زړه سواندې انسان هم وي.

دا هر څه په ښاغلي ناصر سروري کې شته، د وطن نه لرې دی خو زړه یې په وطن کې دی، د ولس په هر درد یې ژړلي خلک یې سولې، مینې او ژوند ته رابللي.

هو !خپل محبوب یې هم له یاده نه دی ویستی، په لمبه لمبه حالاتو کې یې مینه کړې که کار روزګار کوي خو ولې د خپل اشنا د راتلو لارې هم څاري او داسې وایي:

که وزګار یم که په کار کې
یمه ستا په انتظار کې
ستا په یاد کې د شپې ویښ یم
ویده کیږم په سهار کې

ژوند ښکلی دی خو چې چا ته یې د تېرولو، خوند اخیستلو، مینه خپرولو او له انتظار نه د خوند اخیستلو هنر زده وي

دخنداپه تمه ژوند دی تېروم یې
دیو چا په تمه ژوند دی تېروم یې
د رڼا په لټه لټه زندګي کړم
د رڼا په تمه ژوند دی تېروم یې
بیلتانه ظالم نخرې راباندې وکړې
د اشناپه تمه ژوند دی تېروم یې

د سولې دومره تږی دی چې بغیر له سولې ژوند نه غواړي، د کورونو، سرکونو او روغتونو ویجاړتیا خو پرېږده چې د ګودر په ویجاړتیا هم له زړه نه ژاړي او



داسې وایي:

په داسې ژوند باندې به څه وکړمه؟
چې تر بازاره تله راتله نه کیږي
ګودر رنګ شوی شوخه هم نشته دی
تا ته چیناره تله راتله نه کیږي

ناصري صیب یواځې شاعر نه د ی د یو عالم دنده هم ترسره کوي، خلک د تورتم نه رڼا ته رابولي او په دې تأکید کوي چې خپل ماشومان ښوونځو ته ولیږئ !په ځان سخته تېره کړئ !د ټوپک په ځای قلم لاس کې ورکړئ ! وطن ځکه وران دی چې د علم په ارزښت نه پوهیږو

ماشومان ښوونځي ته نه استوو
ناصره! ځکه خو تورتم دی کنه

تر ټولو ستر ارمان یې سوله ده، دغه خوږ غږ داسې انځوروي:

چې زه ناصر وطن کې سوله وینم
خدایه تر هغې راله را زنده ګي

د ښاغلي ناصر سروري د شعرونو ژبه سلیسه او روانه ده ځکه خو زړه ته لاره کوي .د شعر د پخېدو لپاره مطالعه، ادبي ناستې او ریاضت اړین دی اوز زه چې څومره پوهېږم ناصري صیب له دې ټولو لرې دی نو شاعري یې نیمګړتیاوې لري خو د وخت په تېرېدو به لا ښه شي.

زه د سروري صیب سره د شاعر ملګري حزب الله سنګري له لارې اشنا شوم او س کله نا کله بنډارونه کوو نواو خپله ادبي تنده خړوبوو، د پښتو ژبې د بډاینې لپاره چې هر څوک زیار ګالي قدر یې پکار دی، خدای دې دغسې پتنګان نور هم ډېر کړي ، نور ستاسو او تاته د زړه خبره څنګه وکړم؟ تر مینځ نه خنډ کېږم د کتاب لوستو ته مو رابولم.

په ادبي مینه
اسیر مشوانی
اسیا راډیو تلویزون جلال اباد

# خپلې خبرې

شاعري ګران کار دی او بیا زما لپاره خو ځکه ګران دی چې مسافر یم . د ژوند ناخوالې مې نه پرېږدي چې لیکل وکړم او د خپل زړه غږ په حقیقي ډول تاسې ته درورسوم، څه چې مې لیکلي د ملګرو په داد او مینه مې لیکلي.

زه لومړی د خپل پلار او مور څخه نړۍ مننه کوم چې زما د هوساینې لپاره یې په ځان سختې ګاللي او زه یې زده کړو ته هڅولی یم چې دا دې د یوې شعري ټولګې سره ستاسې په چوپړ کې یم او بیا له ټولو ادبي ملګرو څخه مننه کوم چې وخت په وخت نیکې مشورې راکوي او د مسافرۍ ژوند کې داسې احساس راکوي چې د خپلو وطنوالو په مینځ کې یم.

یواځینی قرآن کریم د غلطیو نه پاک دی، ځکه هغه د یو لوی ذات کتاب دی او زه انسان یم انسان نه هرو مرو خطا کېږي، ښایي زما شعرونه ځینې نیمګړتیاوې ولري په دې هیله چې ښننه راته وکړئ.

الله مو اباد لره

ناصر سروري



# مناجات

ته رحیم یې تـه رحـمان یـې لویـه خدایـه
لـه عیبونـو پـه امـان یـې لویـه خدایـه

ســتا د نــوم د یــادولو نــه خونــد اخلــو
زمـونږ زړونـو تـه درمـان یـې لویـه خدایـه

***

ګرد چاپېر ورنه بلا اخلي هم ژاړي
ځمکه لمر ځنې رڼا اخلي هم ژاړي

د ژوندون نه ستړي شوي دلته خلک
هر سړی چې دلته سا اخلي هم ژاړي
پخپل لاس يې خپلې پښې دي ماتې کړي
اوس د بل په لاس امسا اخلي هم ژاړي
ښه پوهيږي چې په دې کار کې ګناه ده
پخپل لاس ځان ته ګنا اخلي هم ژاړي
دوه سکه ورونه يو بل ته دښمان دي
يو په بل پسې سلا اخلي هم ژاړي

يو **ناصر** دی د چا عشق لېونی کړی
بس نامه د هغه چا اخلي هم ژاړي

***



هم خوشاله هم خفه درپسې زه يم
خاوره خاوره او ايره درپسې زه يم

ای جانانه لکه سيوری راسره يې
لکه سيوری هميشه درپسې زه يم

چې دننه مې زړګي ته شوې جانانه
اوس ولاړ په دروازه درپسې زه يم

زه **ناصر** دې بس يادونو لېونی کړم
په غمونو کې اخته درپسې زه يم

***

رانه واخله دا گلونه په ډالۍ کې
راله راکړه دیدنونه په ډالۍ کې

زما په څو غزلو تنده نه ماتیږي
راته لوله کتابونه په ډالۍ کې
ورته وایم چې سنگار مه کوه راشه
راته وایي ږدم خالونه په ډالۍ کې
زه اخلاص او مینه دواړه درکوومه
راکوې راله غمونه په ډالۍ کې

زه ***ناصر*** د محبت اول ټولگي کې
زده کوه راته درسونه په ډالۍ کې

***



خلک له خپلو لاره نه بدلوي
بلبل له گلو لاره نه بدلوي

یو چې شاعر او بل مین شي سړی
بیا له غزلو لاره نه بدلوي

زړه مې دا ښکلي ښکلي ډېر خوښوي
زړه مې له ښکلو لاره نه بدلوي

په کومه لاره چې مې زړه روان دی
نو سل په سلو لاره نه بدلوي

***ناصر*** همېش له خپل جانان ته گوري
هیڅ د کتلو لاره نه بدلوي

***

توره شپه کې د رڼا په لټه ګرځم
لیونی یم د یو چا په لټه ګرځم

زړه مې نه دی د غمونو خزانه ده
ستړی ستړی د خنداپه لټه ګرځم

خوږه یاره! جدایي دې په ملا مات کړم
په ځوانۍ کې د امساپه لټه ګرځم

زه ***ناصر*** دې په دعا کې رب نه غواړم
باور وکړه تل دا ستا په لټه ګرځم

***



که وزګار یم که په کار کې
یمه ستا په انتظار کې

ستاپه یاد کې د شپې ویښ یم
ویده کیږم په سهار کې
خیر که زه یم په ازغو کې
خدای دې تا لري ګلزارکې
کړې چې تورې سترګې تورې
ما نشه کړې ما خمار کړې
د بېلتون له درده یاره
زه سوځېږم په انګارکې

د ***ناصر*** د زړه ټکور شه
څه فایده ده په انکار کې

***

د خداپه تمه ژوند دی تېروم یې
د یو چا په تمه ژوند دی تېروم یې

د رڼا په لټه زندګي کړم
د رڼا په تمه ژوند دی تېروم یې

بیلتانه ظالم نخرې راباندې وکړې
د اشناپه تمه ژوند دی تېروم یې

بې وفا لږه وفا د چا نه زده کړه
د وفاپه تمه ژوند دی تېروم یې

یوې ښکلې رانارې کړلې ***ناصره***
هی داستاپه تمه ژوند دی تېروم یې

***



نور په دې لاره تله راتله نه کیږي
شیرینه یاره تله راتله نه کیږي

په داسې ژوند باندې به څه وکړمه؟
چې تر بازاره تله راتله نه کیږي

ګودر ړنګ شوی شوخه هم نشته دی
تا ته چیناره تله راتله نه کیږي

په انتظار انتظار ستړی ***ناصر***
ډېر بې قراره تله راتله نه کیږي

***

ډېرې خبرې دي جانان، زه يې په زړه تېروم
ځکه خو يمه هک حيران، زه يې په زړه تېروم

دلته قدم په قدم مخ ته ځم خطرې ډيريږي
د حد نه ډېر دلته خپګان، زه يې په زړه تېروم

زړه مې له سترګو نه ګيلې کړي چې دې ولې کتل
وايي کتوکې وو تاوان، زه يې په زړه تېروم

***ناصره!*** ما باندې هجران سمې نخرې وکړلې
عمر مې ټول هجران هجران، زه يې په زړه يې تېروم

***



چې خوشالي نشته او غم دی کنه
ځکه زما سترګو کې نم دی کنه

په طبيبانو باندې نه رغېږم
يو د جانان سره مې دم دی کنه

د بې وسی او غريبی د لاسه
پاتې له مانه کلی چم دی کنه

په دې دنيا کې مې يو زړه دی قربان
او هغه هم قلم قلم دی کنه

خپل ماشومان ښوونځي ته نه استوو
***ناصره!*** ځکه خو تورتم دی کنه

***

یاره زما او بیا دا ستا زنده ګي
لکه غریب او د پاچا زنده ګي

زما د اوښکو او ګرېوان جګړه ده
تېره شوه ټوله په ژړا زنده ګي

په خوشالیو پسې ړوند به شمه
راسره نه کوي وفا زنده ګي

له ډېرې مینې یې زندان ته لېږي
د یوسف مخ د زلیخا زنده ګي

چې زه **ناصر** وطن کې سوله وینم
خدایه تر هغې راله را زنده ګي

***



ډېرې مې اوبه ساتلي سترګو کې
تاته مې ډېر څه ساتلي سترګو کې

سترګې مې ړندې شه چې بل خو اګوري
تاته مې کاته ساتلي سترګو کې
اوس دې رقیبان سر ټیټې ګرځي یار
غشي مې باڼه ساتلي سترګو کې
یاره ستا خو تورې سترګې خوښې دي
راشه ما رانجه ساتلي سترګو کې
ټوله شپه وینې ناست یمه په تمه زه
خلک مې ویده ساتلي سترګو کې

څومره چې **ناصر** سره دې ښه کړي
هغومره یې ښه ساتلي سترګو کې

***

شپه غېږه کې ونیسم سحر غېږه کې ونیسم
څنګه لاس ترې تاوکړمه دلبر غېږه کې ونیسم

چا د احمدشاه او د خوشال منځ کې دیوال جوړ که
مات هغه دېوال کړم لر او بر غېږه کې ونیسم

هله به کامیاب شم او د نورو د سیالۍ به شم
واخلم چې قلم او بیا هنر غېږه کې ونیسم

زه چې خپل ټوټې وجود پخپله ټولوی نشم
څنګه د چا پښې او د چا سر غېږه کې ونیسم

یه ***ناصري*** ټول وطن په وینو لمبېدلی دی
زه به کوم یو ښار او یو غر غېږه کې ونیسم

***



دا کلی چې ګورې د غم کلی دی
دې کلي کې هر یو زورېدلی دی

څنګ به په دې کلي کې ښادي راشي
خان مو د شیطان امر منلی دی

هرڅوک اوبه خړې کړي کبان نیسي
هر دښمن ماهي ځان ته نیولی دی

خدای دې په هغو هم دا حال راولي
چا چې دلته دا حال راوستلی دی

یه ***ناصري*** څنګ به یې دفاع نکړو
دا وطن بابا مونږ ته سپارلی دی

***

یاره زخمي زخمي په زړه یمه خاموشه یمه
چې نه د سمې نه د غره یمه خاموشه یمه

نه سمندر یمه او نه د سمندر چپه یم
د چا په سترگو کې اوبه یمه خاموشه یمه

د خپل وجود نه د وتلو طریقه نه راځي
ټومبلی چا په دیواله یمه خاموشه یمه

زه چې زلمی ووم بندۀارونه به په ما تاوده وو
اوس د پخوا پشانې نه یمه خاموشه یمه

خبره دا ده چې زه خپل جانان ته نشم کتی
خبره دا ده چې بې زړه یمه خاموشه یمه

***



ټول جانان جانان وومه اوس نه یمه
تا باندې چې گران ومه اوس نه یمه

ستا گرېوان راټول به وو پر ما باندې
تاو دې له گرېوان ومه اوس نه یمه

زه چې څومره مست او مستانه ومه
جوش کې ومه ځوان ومه اوس نه یمه

عشق راته کچکول په لاس کې راکړلو
زه د کلي خان ومه اوس نه یمه

تا چې څه ویل ما به منل اشنا
زه ناصر نادان ومه اوس نه یمه

***

یم ترکومه به اشنا ته انتظار زه
توره شپه کې یم رڼا ته انتظار زه

مسافر یم ساه مې مه اخله عزرائله
یم د خپل وطن هوا ته انتظار زه

ښه پوهېږم چې د غم نه وتی نشم
خو بیا هم یمه خندا ته انتظار زه

نوي نوي مې وزرونه را زرغون شو
اوس الوت ته د سبا یم انتظار زه

دا ستا مینه مې رگونو کې خوره ده
ستا ***ناصر*** یم گرانې تا ته انتظار زه

***



زه هره پاڼه دکتاب لټووم
د چا په سترگو کې ځواب لټووم

ما نه د گل پشان جانان وړی دی
هغه زړگی خانه خراب لټووم

که پخپل ځان خپه کېدلمه نو
زه به په هر کار کې ثواب لټووم

په غم ښادۍ کې چې پکار شي یاران
یو یو به زه په انتخاب لټووم

زه لکه اوښکه شوم روان له سترگو
***ناصر*** پرې گډ شومه دریاب لټووم

***

نه مستي او نه مې شور پاتې په زړه کې
خو یو ستا د مینې اور پاتې په زړه کې

د اسمان ستورو چې مخ ترې پټولو
بس د هغه ښکلي کور پاتې په زړه کې

هغه ګل خو لا تر اوسه مړاوی نه دی
هغه ګل خو لا سمسور پاتې په زړه کې

بس له تا سره شوخي نشم کولی
نه مې وس کیږي نه زور پاتې په زړه کې

ای ***ناصره***! رانه مه ځه دلته تم شه
لا خو ستا د مینې سور پاتې په زړه کې

***



تورې سترګې تور رانجه خو داسې نه وي
د زړه کور ته تله راتله خو داسې نه وي

تا خو زه د لېونو خلکو په څېر کړم
ته مې وژنې دا کاته خو داسې نه وي

لکه غشي په زړګي مې راوریږي
قاتلان دي نو، بانه خو داسې نه وي

لېونۍ د مینې چل د چا نه زده کړه
اشارې له دېواله خو داسې نه وي

تا د زړه دروازه خلاصه کړه جانان ته
ای ***ناصره*** ! هر یو زړه خو داسې نه وي

***

دا د مینې سلسله ده او که څنګه
چې خوږه ده که ترخه ده او که څنګه

لکه سیوری راسره هر چېرته درومي
دا مې سیوری که هغه ده او که څنګه

نه پوهېږم چې څه وایم او څه لیکم
چې غزل دی یا ټپه ده او که څنګه

د پخوا غوندې مجلس راسره نکړي
چې خپه ده که غوسه ده او که څنګه

یه ***ناصره*** ! زه یم چېرته او ته چېرته
زمونږ مینځ کې فاصله ده او که څنګه

***



د مینې اور کې دې کباب کړه زه
اول دې خپل بیا دې ځواب کړمه زه

زه ستا په مینه چې ژوندی ګرځېدم
څنګه په مړو کې دې حساب کړمه زه

د مینې ښار د زړه قرار په لټه
ژوندونه! دومره دې بیتاب کړمه زه

چې ته مې خوښ یې او ته ګران یې راته
څنګه د بل نوم انتخاب کړمه زه

ما سروري درسره پت پاللو
خو انتظاره تا خراب کړمه زه

***

خپل ځان ته ګوري که جانان ته ګوري
ځمکې ته ګوري که اسمان ته ګوري

وخته! د خلکو د خندا دې کړمه
خاندي زما څيرې ګرېوان ته ګوري

ستا د ديدن په تمه داسې يم چې
بس لکه للمه چې باران ته ګوري

که ته يې خپل نکړې پرواه نکوي
ستا لېونی به خپل ارمان ته ګوري

***ناصر*** ته ګورم هيڅ خندا نکوي
خپه خپه ښکاري خپل ځان ته ګوري

***



ګل يم د ازغو په مينځ کې پروت يمه
ژاړم د دردو په مينځ کې پروت يمه

ته نه يې نو زه ورباندې څه وکړم
ستا د تصويرو په مينځ کې پروت يمه

شپه ده، تنهايي ده، باران هم اوري
زه ستا د يادو په مينځ کې پروت يمه

ژونده! زنده ګی نه دې بېزار کړمه
تل د ارمانو په مينځ کې پروت يمه

زه د ***ناصر*** د ډېرو خلکو يار يمه
زه د ډېرو زړو په مينځ کې پروت يمه

***

زه په طبيبانو نه رغېږمه
يو ځل د يار دم ته ضرورت لرم

بس دی نور ټوپک په لاس کې نه اخلم
بس دی نور قلم ته ضرورت لرم
نور مې په زخمونو مالګې مه شينده
ژوبل يم مرهم ته ضرورت لرم
نور د هيڅا غم راسره نشته دی
بس يو خپل صنم ته ضرورت لرم
نه پکې چې جنګ وي نه دردونه وي
خدايه داسې چم ته ضرورت لرم

سترګو زما اوښکو ته دا وويل
سترګه يمه نم ته ضرورت لرم

***



چې به واورې ورېدلې په دې ښار کې
څومره ښکلې ښکارېدلې په دې ښار کې

له کوټې به چا بهر نه پرېښودمه
له کړکۍ به مې کتلې په دې ښار کې

د پيشو د پښو خاپونه مې ډېر خوښ وو
چې په واورو ګرځېدلې په دې ښار کې

چې د خپل وطن ياران مې راسره وي
ما به ولې نن ژړلې په دې ښار کې

سروري جانانه اوس پکې دياړي کړو
تماشې به مو کولې په دې ښار کې

***

ته شولې رڼا د ټول جهان سپوږمۍ
تاته کتی نشمه اسان سپوږمۍ

دلته د هر چا په خوله دا ستا نوم وي
دلته یادوي دې هر انسان سپوږمۍ

ستا په مخ چې کله شي خورې زلفې
دلته وریځې وریځې شي اسمان سپوږمۍ

تا ته چې یوه شپه دروګورم
خدایګو چې قوي مې شي ایمان سپوږمۍ

ما ***ناصر*** نه مه څه خدای لپاره نور
اوښکې به مې ځي بیا په ګرېوان سپوږمۍ

***



ژوند زما ګلزار کړه وایي سمه ده
ما خمار خمار کړه وایي سمه ده

ما نور د تیارو نه لرې لرې کړه
شپه راته سهار کړه وایي سمه ده

زه ورته له مینې داسې وایمه
ځان راته په قار کړه وایي سمه ده

زه به دې هم ټول عمر نازونه وړم
ما د غاړې هار کړه وایي سمه ده

پرېږده چې ټول عمر درته ګورمه
لږ شانتې سینګار کړه وایي سمه ده

***

سهار نه ټکی کېږدي بیا ماښام لیکي غزل
راویي کتل تصویر یې کړم په بام لیکي غزل

خبرې په غزل کې کړي پخه ده شاعري کې
راټول ښکلي الفاظ کړي ښه په پام لیکي غزل

الهام کې غرقه شوې ګوري ماته لیکي بل څه
هغه د چا په یاد کې په الهام لیکي غزل

په لاره کې روان وومه یو چا راته ویل
ګودر کې یوه جینۍ ده ستا په نام لیکي غزل

***ناصره***! تا شاعره کړه اوس تا یادي غزل کې
***ناصره***! ستا له بخته په ټول قام لیکي غزل

***



پخپل زړګي کې بل زړګی لټووم
زه په خزان کې پسرلی لټووم

چې ماشومانو به په کاڼو ویشتو
هغه د کلي لېوني لټووم

زه د هر چا سره یاري نکووم
زه خو د ځان پشان سړی لټووم

په دې ویرېږم چرته ورک یې نکړم
د ورځې شل ځل ستا بنګړی لټووم

یه سروري چې اخر نه کیږي نو
اوس به ازغیو ته ازغی لټووم

***

گړنګونو کې هواره پسې ځمه
وړی تږی یم نهاره پسې ځمه

چې اوبو ته کله ګورم جانان وینم
بیا په منډه په هینداره پسې ځمه

دا زړګی چې مې په کومه لاره تلی
زه به هم په هغه لاره پسې ځمه

چې سالار د قافلې مو لېونی دی
ختموي مې بس له ډاره پسې ځمه

سروري ګلابه زه چې کومه ستایم
ده په کلي کې، له ښاره پسې ځمه

***



چې راخېژي زیړی لمره څومره ښه یې
بلها خوند کوي سحره څومره ښه یې

چې خوشاله د نړۍ مسلمانان شي
راشه راشه بیا اختره څومره ښه یې

چې پیغام همېش د مینې درسره وي
ای د مینې مازیګره څومره ښه یې

مازیګر شي پېغلې ستا په لوري درشي
تا مزې وکړې ګودره څومره ښه یې

چې دې اوښکې د چا سترګو کې لیدلې
تا به پاکې کړې ***ناصره*** څومره ښه یې

***

زه درنه غواړمه قلم ډالۍ کې
ما کله غوښتی دی ستم ډالۍ کې

زما ټوپک څخه نفرت شوی دی
ټوپک راکړی دی ډېر غم ډالۍ کې

څوک چې ددې خاورې بچیان قتلوي
یه خدایه ورکړې جهنم ډالۍ کې

له دې نه وروسته به ژړا نکووم
نه به ګرېوان ته ورکړم نم ډالۍ کې

د ***ناصر*** زړه باندې ارمان پاتې دی
څوک به ګلزار کړي زمونږ چم ډالۍ کې

***



ورځ چې د بېګا خبره نه مني
غم دې د خندا خبره نه مني

ټول دلته من من دي کیلو نشته دی
خان مو د باچا خبره نه مني
چا چې ماشومتوب څخه لوی کړی وي
هغه د بابا خبره نه مني
دلته ټول د دروغو حکومت کوي
دلته د رښتیا خبره نه مني
دې ځای کې شیطان زورور شوی دی
هیڅوک د ملا خبره نه مني

څنګه به دا خلک ترقي وکړي
څوک دلته د چا خبره نه مني

***

مین زړونه د یو بل سره نېړدې دي
لکه نوک او ورۍ تل سره نېړدې دي

څوک چې ستا په لوري مخ اړوي یاره
هغه خلک د اجل سره نېړدې دي

بې له تا نه زنده ګي کولی نشم
ستا یادونه مې زړه تل سره نېړدې دي

چې لاس خوږ شي اوښکې لاړې شي له سترګو
په دې پوی شه چې دا خپل سره نېږدې دي

یه ***ناصره***! زه ځانګړې لار لرمه
ټول شعرونه مې عمل سره نېړدې دي

***



دا دومره ظلم چې په ما کوې ته
کانه په ما د کربلا کوې ته

ته چې ددې خاورې بچیان قتلوې
وایه ثواب او که ګناه کوې ته

د ماشومانو چې ښوونځی ورانوې
د انسانیت سره جفا کوې ته

خدای به په تا هم دغه حال راولي
چې زه ژړا هلته خندا کوې ته

***ناصره***! ستا له وسه هیڅ نه کیږي
هسې خبرې تر بېګا کوې ته

***

زه به نور نه ځم د جانان په کوڅه
ارمان مې ځي د بل ارما ن په کوڅه

جانانه ستا په يوه خبره باندې
ارمان مې ځي د بل ارمان په کوڅه

نن دې بهار بهار موسم ته گوره
ما خو شړي وخت د خزان په کوڅه

نه دا خپل خپل شو، نه پردي راخپل شو
نه مې پرېږدي دلته خپلوان په کوڅه

يو چا ليدلی وې ***ناصره*** چېرته
خپلو يادو سره حيران په کوڅه

***



دا د ژمي شپه او ستا يادونه دي
کال غونډې اوږده او ستا يادونه دي

خيال او تصور کې زما ته اوسې
دا يې سرچينه او ستا يادونه دي

زه خو له تيارو سره کيسې کووم
خوب رانه خپه او ستا يادونه دي

هسې دې د ژوند څخه بېزار کړمه
مينه سره لمبه او ستا يادونه دي

بس په جدايی کې دې ***ناصر*** هر وخت
وي لکه تپه او ستا يادونه دي

***

د شپې نه ویرېدمه د سبا نه ویرېدمه
ته ما نه ویرېدلې زه له تا نه ویرېدمه

چې کله تېرېدمه د رقیب د کلي خوا کې
خپل څنګ نه ویرېدمه خپلې شا نه ویرېدمه

تیارو سره عادت ووم د رڼا څه پته نه وه
اسمان کې د غوغا او د برېښنا نه ویرېدمه

د خټو ګټو کور زما وران نشي- په باران کې
د ورېځو ویرېدمه له بارانه ویرېدمه

ظالمه زمانه وه د خندا سره دښمنه
***ناصره***! مجبوري وه چې له ځانه ویرېدمه

***



ته خوشاله زه خوشاله
سترګو کې اوبه خوشاله

چې په ځمکه انسان ښاد وي
د هوا مرغه خوشاله
ددې خاورې ماشومان به
ځي ښوونځي ته ښه خوشاله
چې وطن ته سوله راشي
شي به لوی واړه خوشاله
چې موسم بهار بهار شي
ونې شنې واښه خوشاله

د ***ناصر*** ارمان پوره شي
بیا به شي دا زړه خوشاله

***

شپه راشي رڼا اخلي زه مړه مړه ورته ګورمه
ژوند رانه خندا اخلي زه مړه مړه ورته ګورمه

ځوان يمه خو ملا مې ماته کړې ده مجبور يمه
لاس نه مې امسا اخلي زه مړه مړه ورته ګورمه

شمع ده بليږي د تيارو تيارو په مينځ کې خو
هغه هم له ما اخلي زه مړه مړه ورته ګورمه

زه خو ورله شات لېږم او هغه راله زهر
چل کې ما نه ساه اخلي زه مړه مړه ورته ګورمه

ما ***ناصر*** نه مه پوښته خپل څنګه پردي څنګه دي؟
ټول ځان ته بلا اخلي زه مړه مړه ورته ګورمه

***



د زړه قرار دومره اسانه نه دی
يار ته اظهار دومره اسانه نه دی

د هجر شپه لکه د کال تېريږي
دا انتظار دومره اسانه نه دی

زه مجبوری يمه له کور شړلی
زما روزګار دومره اسانه نه دی

***ناصره***! خوب کې دې جانان وليده
ويخ شه ديدار دومره اسانه نه دی

***

زړه زما شي ناقراره چې ماښام شي
چې دې نه وينمه ياره چې ماښام شي

زړه مې وايي چې همدلته لږ ايسار شه
يار تيرېږي په دې لاره چې ماښام شي

زه چې کله په څنګل د يار سر کېږدم
ورته ګورم تر سهاره چې ماښام شي

کله کله انتظار مې ليونی کړي
ځا ن ته وايم ستوري شماره چې ماښام شي

يا به خپله مينه خپله کړم ***ناصره***
يا به ورشمه تر داره چې ماښام شي

***



ښکلې ښکاريږي په هوا کوترې
مونږ ته راوړي د ژوند رڼا کوترې

دې نوي ژوند ته اميدونه لري
ځکه د سولې کړي دعا کوترې

چې په پنجرو کې مو بندي ساتلي
کوي د ځان سر ه ژړا کوترې

مونږه چې کله لږه مينه ورکړو
کوي څه بل شانتې ادا کوترې

***ناصره***! نوي يې وزرونه کړي
پرېږده چې وګوري دنيا کوترې

***

جانان چې نه وینم خمار څنگه شم
یار چې مې خپل نکړي د یار څنگه شم

چې مې نظر ته خپل جانان رانشي
زه بې دیدنه په قلار څنگه شم

زه چې په کلي کې لوی شوی یمه
ای کلیواله! اوس د ښار څنگه شم

شیطانه ما باندې خدای ننگ کړی دی
ووایه څه کنه! بې لار څنگه شم؟

ډېر مې زغملي د هجران وختونه
***ناصره***! نور به انتظار څنگه شم

***



مه کوه انکار لېوني کېږمه
شې به گناهگار لېوني کېږمه

زلفې چې خورې کړې په ما شپه راشي
نه وینم سهار لېوني کېږمه

ته چې مازیگر کله گودر ته ځې
مه کوه سینگار لېوني کېږمه

نور خو زما وس د بېلتانه نشته
گران دی انتظار لېوني کېږمه

ما ***ناصر*** نه نور دا خزان څه غواړي
نه راځي بهار لېوني کېږمه

***

په غره سم تلم په هواره ولوېدمه
ویرېدمه زه، له ډاره ولوېدمه

ته چې کله مازیګر تللې ګودر ته
ناست چینار کې له چیناره ولوېدمه

ستا د سترګو په نشه کې دومره ډوب شوم
ستا کتو کې له خماره ولوېدمه

چا ویلې مینه ژوند، مینه ښکلا ده
د چا عشق د چا لپاره ولوېدمه

زه ***ناصر*** دې مینې هسې لېونی کړم
په خیالونو کې دې یاره ولوېدمه

***



کله جوړېږي چې زړګی مات شي
د ګودر غاړه کې منګی مات شي

د جانان غمه داسې مات دې کړمه
لکه په تبر چې لرګی مات شي

مینه څه بل رنګې کانې کوي بس
لکه د غر غوندې سړی مات شي

چې په ځوانۍ کې عبادت نکوي
د زوړ سجدو باندې تندی مات شي

د ***ناصر*** زړه باندې به پام کړې ګلې
بیا هسې نه لکه بنګړی مات شي

***

ستوري خوشاله په اسمان دي زه په څه خوشال شم؟
ټول کړيدلي افغانان دي ز ه په څه خوشال شم؟

بهار راغلی وو يو څو شېبې خو بېرته لاړو
اوس رژېدلي ټول ګلان دي زه په څه خوشال شم؟

زما د سترګو څخه اوښکې په اسانه نه تلې
اوس مې روانې په ګرېوان دي زه په څه خوشال شم؟

وخته! ظلمونه دې په ما له حد نه ډېر کړې دي
واړه نن يو بل ته حيران دي زه په څه خوشال شم

***ناصره!*** زه که د درياب غاړې ته ناست يمه خو
للمې مو ترې د باران دي زه په څه خوشال شم

***



يو خو غم وو او بل شپه شوه زه يواځې
ستورو ماته نظاره شوه زه يواځې

يار ويلي وو نن خامخا درځمه
خو بس ماته يې وعده شوه زه يواځې

يو قدم چې د هغې په لوري اخلم
لنده لار ماله اوږده شوه زه يواځې

دا زړګی زما بېلتون زغملی نشي
را په زړه ياره کيسه شوه زه يواځې

ما ***ناصر*** به چې قلم په لاس کې واخيست
بس خو پاڼه به لمده شوه زه يواځې

***

ولې به د مینې نه انکار کوي
ماته چې په سترگو کې اظهار کوي

زه چې ورته وایم درنه ځار شمه
ډېر له نازه نازه په ما قار کوي

زه چې ورته وایم خامخا درځم
دا راته د مخکې نه سینگار کوي

کله چې دا ووایي زه ستا یمه
هغه دم زړگی زما قرار کوي

څنگه به بې خوده **ناصر** نشمه
څرنگه نخرې راته نگار کوي

***



لمبه لمبه دې کړمه نور څه غواړې
د غم مېلمه دې کړمه نور څه غواړې

لکه منگی به دې په سر ساتلم
میده میده دې کړمه نور څه غواړې

زه خو د سترگو په جنگ نه پوهېدم
په جنگ اخته دې کړمه نور څه غواړې

یو مې بدن وو ما پرې فخر کاوه
ټوټه ټوټه دې کړمه نور څه غواړې

***

❀

ماته نن جانان خبرې نکوي
يم ورته حيران خبرې نکوي

وريځې په اسمان کې سره يو شولې
بېل به شي باران خبرې نکوي

اوښکې مې د سترګو نه روانې دي
ځي مخ په ګرېوان خبرې نکوي

څنګه به مې زړه ټکور ټکور شي نو
يار د ګل پشان خبرې نکوي

هيڅوک يې د حال پوښتنه نکوي
ځکه ***ناصر*** خان خبرې نکوي

***



❀

له نظره مې شو يار په بارانه کې
سمدستي شومه خمار په بارانه کې

چې د خيال او تصور فکر يو ځای شو
رانه ورکه شوله لار په بارانه کې

چې سهار وو لږ شمال وو لږ باران وو
ښويدې زلفې تار تار په بارانه کې

زما زړه به د خوښۍ نه په هوا شو
چې ليده به مې سهار په بارانه کې

چا ويل چې شي باران جانان رادرومي
زه ***ناصر*** يم انتظار په باران کې

***

څنګه زنده ګي وکړم د چا په څېر
پاتې خو زه نه یم د پخوا په څېر

نشته په دنیا کې وفا نشته د ی
نشته بې وفا ددې دنیا په څېر

دواړه لاسه زه چې کله پورته کړم
کله وي غوښتنه د دعا په څېر

زه خو یو د مینې ډک انسان یمه
خوی نشم کوی د خپل اشنا په څېر

بس زما د زړه نه یو الله خبر
نه به وي هیڅوک دلته زما په څېر

***



وي ولاړه په دېوال چې ورته ګورم
په تندي لري شین خال چې ورته ګورم

ورته ګورمه حیران یمه حیران یم
ښکلې نلري مثال چې ورته ګورم

چې د مینې تبه کله په ما راشي
نور بدل شي زما حال چې ورته ګورم

د زړګي په درد چې زه نه پوهېدمه
زړه له ما نه کوي سوال چې ورته ګورم

چې دعشق په تال کې زه ***ناصر*** زنګېږم
راکوي د مینې تال چې ورته ګورم

***

ډېر دې انتظار يم خداى دې راوله
ځکه بې قرار يم خداى دې راوله

هيڅ درک دې نه لګيږي چرته يې؟
تا پسې بيمار يم خداى دې راوله

ياره په خوبونو کې دې وينمه
ډېر دې په تلوار يم خداى دې راوله

زه ***ناصر*** به چاته خپل احوال وايم
بس په چا انبار يم خداى دې راوله

❋❋❋



شپه چې تيريږي وي سحر ورپسې
روژه چې خلاصه شي اختر ورپسې

زما د زړه دروازه چا خلاصه کړه
زه خو به وتړمه در ورپسې

چې سترګو سترګو ته مې هغه راځي
روان روان مې دى نظر ورپسې

په شا يې وکتل روانه شوله
هغه مجرمه زه عسکر ورپسې

ګودر اوس نشته مکتبۍ شوه هغه
چې رخصتيږم ځم ***ناصر*** ورپسې

❋❋❋

**زما جانان په ما ملنډې وهي**
**يمه حيران په ما ملنډې وهي**

**کله باران شي کله لمر ښکاره شي**
**ښايي اسمان په ما ملنډې وهي**

**نه مې پرېږدي چې زه په پښو ولاړ شم**
**دا ټول جهان په ما ملنډې وهي**

**اوښکې نارې وهي ګرېوان ته نه څم**
**هغه ګرېوان په ما ملنډې وهي**

**زه *ناصر* څه کوی شم څه وکړمه؟**
**زما خپل ځان په ما ملنډې وهي**

***



**يادومه دې دلبره خوب مې نشته**
**د ماښام نه تر سحره خوب مې نشته**

**مه ځه مه ځه زما خوا کې ته اوسېږه**
**نشې نشې مروره خوب مې نشته**

**بې قراره بې قراره درپسې يم**
**تا نه ځار شم د زړه سره خوب مې نشته**

**ستوري شمارم ستوري شمارم ټوله شپه کې**
**له اوله تر اخره خوب مې نشته**

**کله کله د خپل ځان سره لګيا يم**
**ځان ته وايمه *ناصره* خوب مې نشته**

***

ورک زما نه خوب شو ورک د ځانه شوم
ستا چې پېغلتوب شو ورک د ځانه شوم

ما باندې جانانه دومره خوږ دی غم
یا خو لېونتوب دی ورک د ځانه شوم

ماته مینه مینه ټوکه ټوکه وه
وخت د مینتوب شو ورک د ځانه شوم

ښکلی ماشومتوب به بېرته نه راځي
یاد مې ماشومتوب شو ورک د ځانه شوم

سترګې مې د خپله واکه وتې دي
دا څه سړیتوب شو ورک د ځانه شوم

***



د یوه پلار اولادونو په میدان سره جګړه ده
دا ځکه د غریب د کلي خان سره جګړه د ه

ما تا پسې راخېستې تا په ما پسې راخېستې
خبر نه یو د ځانه زمونږ ځان سره جګړه ده

چې یو مو لړ راپورته کړي او بل مو کړي ګوزار
ددې ټولې نړۍ نن د افغان سره جګړه ده

زمونږ ه پاکې خاورې پسې چا پښې لوڅې کړي؟
په ځمکه د انسان د بل انسان سره جګړه ده

اوبه چې دلته خړې کړي کبان به پکې نیسي
**_ناصره_** د کافرو مسلمان سره جګړه ده

***

دا چې په ما له حده ګران دی څه پردی خو نه دی
ما پسې هر ځای ته روان دی څه پردی خو نه دی

کله مې ځان ته کړي نېږدې کله مې اور کې خطا کې
دا خو زما د ژوند داستان دی څه پردی خو نه دی

اوښکې ورو ورو چې شوې روانې د ګرېوان په لوري
په لاره وايي خپل ګرېوان دی څه پردی خو نه دی

هغه مې ځان هغه زړګی هغه رڼا مې د ژوند
ماله دا ستوری د اسمان دی څه پردی خو نه دی

***ناصر*** ترې ځار، زړه ته قرار، نن په اظهار دی کنه
وايي زما دکلي خان دی څه پردی خو نه دی

***



نور مې د زړه خبرې مه راسپړه
ګوره زړګي کې مې ډېر غم ساتلی

خير په زخمو مې مالګه مه دوړوه
لږ مې زخمونو ته مرهم ساتلی
نور نو له جنګه سترې شوی يمه
ځکه په جېب کې مې قلم ساتلی
اوس مې هم اوښکې ودرېدلې نه دي
اوس مې هم سترګو کې ډېر نم ساتلی
ټولې نړۍ ته مې ثابته کړه چې
ما خپله سيمه ما خپل چم ساتلی

***ناصره!*** چاته زه ګيله وکړمه
خپلو په کور کې راته بم ساتلی

***

ټوله شپه ناست یم تر سبا تصویر ته
ډېره مې وکړله ژړا تصویر ته

هغه ګونګی راسره نه غږیږي
زه لېونی یمه لګیا تصویر ته
مینې دې دومره حال خراب کړ زما
چې په لمانځه کوم دعا تصویر ته
کله یې زړه ته کرم نېږدې تصویر دې
زړه مې درزیږي خامخا تصویر ته
زه چې هینداري ته بیا مخ اړوم
بیا پکې ګورمه دا ستا تصویر ته

د ***ناصر*** غوږ ته ستا اواز راځي تل
***ناصر*** نارې کړي چې بیا بیا تصویر ته

***



سترګو کې مې نم دا ستا د لاسه دی
زړه کې مې ډېر غم د ستا دلاسه دی

زړه مې ګرانې تا پسې چاودلی دی
چاود لکه غنم دا ستا دلاسه دی

نور په طبیبانو نه رغېږمه
وتی خو مې دم دا ستا د لاسه دی

یاره خو په اور باندې سوځېږمه
ډېر دی او که کم دا ستا لاسه دی

زه ***ناصر*** چې تا پسې ژړېږمه
جوړ دلته ماتم دا ستا دلاسه دی

***

❀

شپه سبا نه ورځ بېگا نه په گیله
څوک د چا نه څوک د چا نه په گیله

سترگي کړي شکایتونه له زړگي نه
زړه د مینې له دنیا نه په گیله

زما اوښکې چې د سترگو څخه تللې
تللې تللې، تر گرېوانه په گیله

دلته یو ورور د بل ورور څخه خپه دی
څوک د نن څوک د پخوا نه په گیله

ژونده! څرنگه کاني دې په ما وکړې
زه ***ناصر*** دې کړم له ځانه په گیله

***



❀

ژوند چې بدلېږي وي اغاز د مینې
زړگی چې کله کړي اواز د مینې

چاته به څنگه پته ولگېږي
چې خبر نه وي په انداز د مینې

یو زړگی بل زړگی ته لاره کوي
چې لټوي ځان له جواز د مینې

د محبت دنیا کې ژوند کوي څوک
پټ پټ به ساتي هر یو راز مینه کې

***ناصره!*** ته چې غزلونه لیکې
ستا غزلونو کې دی ساز د مینې

***

وایه چې نن ښه دی که پرون ښه وو؟
دلته خو په څه وخت کې قانون ښه وو

ټول عمر یې خاورې په سر باد کړلې
څوک وایي لیلا ښه وه مجنون ښه وو

بیا راته یو زوړ سړي اواز وکړو
وې ویل چې ځوان وومه ژوندون ښه وو

خلاصه مې د زړه دروازه یار ته کړه
یار دننه ښه نه وو بېرون ښه وو

نن چې یې په نیمه لار کې پرېښودې
دې نه خو ***ناصره*** زړه چاودون ښه وو

***



ساه مې ووته بدن څخه جانانه
مسافر چې شوم وطن څخه جانانه

خپل زړګی به د یار زړه سره ګنډمه
تار مې وتی دی د ستن څخه جانانه

ستا په یاد کې پټې اوښکې تویوومه
خوب مې نشته ماسخوتن څخه جانانه

بې بلبلو په چمن کې خاموشي وي
بلبلان تښتي چمن څخه جانانه

غزوه پښې همېشه تر خپل بړستنې
پښې دې مه باسه بړستن څخه جانانه

***

❁

د چا یاد چې دې بستر وي ژوند به څه وي
مرور درنه اختر وي ژوند به څه وي

په شته پلار کې چې بې پلاره ماشوم ګرځي
د کور مشر چې بهر وي ژوند به څه وي

چې د یار په ځای غمونه د یار راشي
نه ماښام وي نه سهر وي ژوند به څه وي

نن د کلي پېغلې نه ښکاري په لاره
چینه ورانه وران ګودر وي ژوند به څه وي

د نرۍ واړه ملکونه پسې ګوره
نه ***ناصر*** نه به سرور وي ژوند به څه وي

❁❁❁



❁

خوب رانه خپه ده ګرانې څه وکړم
څومره اوږده شپه ده ګرانې څه وکړم

ستا د مینې اور په ما بل شوی دی
ژوند مې سره لمبه ده ګرانې څه وکړم

چا ویل چې مینه کې مزې دي بس
دا څنګه مزه ده ګرانې څه وکړم

ما ***ناصر*** ویل ډېر به خوشاله یم
غم غم مې شېبه ده ګرانې څه وکړم

❁❁❁

چې غیرې ته دې رانشي بیا خوب به څنګه درشي
دا ښکلی چې رضا نشي- بیا خوب به څنګه درشي

یادونه دې مل مل وي او ته مړه مړه ورته ګورې
ستا سترګو ته پناه نشي- بیا خوب به څنګه درشي

تیاره به وي او ته به یې، په اوښکو لوند ګرېوان ستا
ژړا ته چې تنها نشي بیا خوب به څنګه درشي

ای درده! په بدن مې دومره خوږ شوې بې پوښتنې
دې درد نه چې جدا نشې بیا خوب به څنګه درشي

چې تل یې درته ویلي ای ***ناصره*** څنګل خور کړه
چې نور په دې وینا نشې بیا خوب به څنګه درشي

***